مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

استاد شهسوار سنګروال ۲۰۱۸/۰۴/۰۵

سردار محمد داود خان اوجمال ناصرولې شوروي لورته وسکېدل؟

ستونزې او پرمختګونه،

محمد داود خان په داسې مهال د افغانستان صدراعظم شو چې نړۍ له ژور بدلون سره مخ وه. نوي ټولنیز خوځښتونه مینځ ته راغلل، د دویمې نړیوالې جګړې متحدین یو د بل سیالان شول.

امریکې او شوروي په نوو سیاسي هاندو هڅو لاس پورې کړ...امریکا یو شمېر تېر متحدین لا د ځان ملګري کړل او جګړه ځپلي متحدین یې له درانه خوبه را پورته کړل او د خپلو هېوادونو د رغاونې لپاره یې د امریکې په اقتصادي ملاتړ خپل هېوادونه ښاد او اباد کړل.

امریکا او لوېدیځ هېوادونه یو موټی شول او د یوه ستر «مارشال پلان» پر بنسټ یې له ۱۹۴۷ کال نه تر ۱۹۵۲ کال پورې خپل هېوادونه په پښو ودرول.

د برېتانیا صدراعظم (۱۹۴۰ – ۱۹۴۵ کال) چرچل هم **Winston Churchill** د امریکا «مزوري» په ایالت کې د ویستمنستر کالج کې په یوې نامتو تاریخي وینا سره نړۍ دېته را وبلله چې د «کمونیزم» راتلونکی ګواښ له پامه ونه غورځوي.

له دې وروسته سړه جګړه پیل شوه. دواړو ځواکمنو (روسیې او امریکې) هېوادونو د نړۍ د ښکېلولو هڅې پیل کړې نړۍ د دوه سترو هېوادونو په لیکه کې ودرېده.

امریکا د شوروي د مخنیوي لپاره د یو شمېر سیمه ییزو هېوادونو پر مټ د سیټو ۱۹۵۴ **SEATO**، (۱۹۵۵) سینټو **CENTO** (۱۹۴۹) **NATO** نظامي او اقتصادي اتحادیې جوړې کړې.

شوروي اتحاد هم د یو شمېر ختیځو هېوادونو پر مټ په (۱۹۵۵) کال د «وارسا» پنوم تړون جوړ کړ. ولې ټوله نړۍ په دغو تړونونو کې ځای نشوه.

د دریمې نړۍ په نوم، یا د غیر منسلکو او یا د وروسته پاتې یاد ناپیلیون هېوادونو په نوم، یا مخ په ودې ټولنې... اصطلاوې وکارېدې هر نوم چې د سیاسي او اقتصادي جوړښت پر بنسټ سم وي، ویبه، خو د ناپیلوهېوادونو په نوم یوه ټولنه مینځ ته راغله.

د ناپلیتوب دغه اند او فکر هغه مهال وغوړېد چې د یوشمېر اسیایي او افریقایي هېوادونو په ګډون په ۱۹۵۵ ز کال د اندونیزیا د «باندونګ» په ښار کې یوه غونډه جوړه شوه.

په دغه وخت کې یوشمېر سیاسي شخصیتونه د سیاست ډګر ته راووتل چې سیاسي رول یې ډېر د پام وړ ګڼلی شو. په دغه لړ کې موږ جمال ناصر، جواهر لال نهرو، د اندونیزیا جمهور ریس عبدالرحیم سوکارنو د ساري په توګه یادولی شو.

د مصر جمهور ریس ناصر د عربي ناسینالیزم غږ پورته کړ، بیا یې په ۱۹۵۶ کال د جولای په ۲۶ نېټې د یوې وینا په ترڅ کې چې سلګونو زرو خلکو په سکندریه کې غونډه کړې وه، د سویز نړیوال کانال ملي اعلان کړ او په دې کار یې برېتانیه او فرانسه دواړه هېوادونه وګواښل.

جمال ناصر «اسوان د پروژې خبره هم را پورته کړه ولې د «اسرائیلو» په سر امریکا له مرستې کولو ډډه وکړه، نو ځکه یې بیا مخ شوروي اتحاد ته واړوه چې د هغه هېواد مرسته ترلاسه کړي.

سوکارنو هم لکه د جمال ناصر په څېر د ناسیونالیزم د ودې او پرمختګ لپاره د باندونګ په کنفرانس ډډه ولګوله.

سردار محمد داود خان هم له همدې غورځنګ سره یوځای شو او د افغاني ناسیو نالیزم په رڼا کې د پښتونستان د مسئلې حل وغوښت.

دې موخې ته د رسېدو لپاره یې د اقتصادي او نظامي پرمختګ په هیله امریکا ته د مرستې لاس اوږد کړ.

امریکا لکه څنګه چې د اسرائیلو په خاطر له جمال ناصر سره د «اسوان» د پروژې په تړاو مرسته ونکړه. همدغسې له محمد داود خان سره هم د پاکستان له بابته ونه غوښتل چې له نوموړي سره مرسته وکړي. نو ځکه د هېواد

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

صدراعظم له ډېرو هلو ځلو وروسته، چې په پای کې «نکسن» هم د افغانستان وړانديزونه ونه منل نو ځکه يې بيا شوروي ته د دوستۍ لاس اوږد کړ.
روسانو ان د تزار له مهاله او په ځانګړي ډول د «پتر کبير» له وخته دا هيله لرله چې تودو اوبو ياني د هند سمندرګي ته ځان ورسوي. نو ځکه شوروي چارواکو د افغانستان وړانديز ته غاړه کېښوده.
«دې کې شک نشته چې افغانستان اقتصادي او نظامي ستونزې لرلې، خو پاکستان هم په خپل مټ او ځواک ډاډه نه وو، چې پرته له بهرنيو مرستو د روا او تاريخي غوښتنو مقابله وکړي. يوازې توپير يې په دې کې وو د پاکستان دوست (امريکا) په خپله دوستي ولاړ وو.
او د افغانستان دوست (شوروي) له افغانستان سره په رښتني مانا مرسته نه کوله... پاکستان هغسې هم نورې سرحدي ستونزې له هند سره د کشمير او حيدراباد په برخه کې لرلې خو امريکا ورسره بېدرېغه مرسته وکړه.»([۱])
افغان چارواکو په بېلابېلو وختو کې امريکا او پاکستان ته د دوستۍ لاس اوږد کړ او غوښتل يې له پاکستان سره له دېپلوماتيکو لارو يوې پايلې ته ورسېږي.
په ۱۹۴۷ ز کال د نوامبر په مياشت کې نجيب الله دېته وګمارل شو چې له پاکستاني چارواکو سره خبرې اترې وکړي.
نوموړي په کراچۍ کې له ليدلو او کتلو وروسته د پاکستان چارواکو ته درې وړانديزونه وکړل:
۱ – پښتونخوا ته بايد ديوه ځانګړي ولايت نوم ورکړشي.
۲ – د بلوچستان په لوېديځ کې پاکستان بايد افغانستان ته د سمندر لاره پرانيزي او په کراچۍ کې يو خپلواک زون ورکړ شي.
۳ – افغانستان او پاکستان بايد ژمنه وکړي، که چېرې کوم هېواد پرې برید کوي، بل به ناپېيلی پاتې کېږي.([۲])
افغانستان دېر کوښښ وکړ چې د پښتونستان په تړاو نړيوال ملاتړ تر لاسه کړي. ولې برېتانيا په دې لاره کې يو لوی خنډ وه.
افغان چارواکو داسې انګېرله چې يوازې امريکا کولی شي چې د افغانستان او پاکستان تر مينځ سياسي کشاله حل کړي. موږ د مخه دېته اشاره وکړه چې افغان چارواکي پاکستان سره خبرو ته چمتو وو.
«امريکا هم درې وارې د مينځګړيتوب لپاره هلې ځلې وکړې. يو ځل پخپله او وروسته بيا مصر او ترکيې ته يې وويل... افغانستان ومنله، خو پاکستان ټول وړانديزونه رد کړل او دايې خپله کورنۍ مسئله وګڼله.»([۳])
افغان چارواکو بيا هم د امريکا له دوستۍ نه لاس وانه خست وړانديز يې وکړ، کوم نظامي کمک چې له پاکستان سره کېږي بايد افغانستان سره هم وشي.
نو بيا يې په ۱۹۵۱ کال د اګست په مياشت کې د وسلو يو لست د يوه رسمي مکتوب په ملتيا د امريکا هېواد ته وړاندې کړ.
امريکا د نوامبر په مياشت کې (۱۹۵۱ ز کال) افغان چارواکو ته وويل: د لست له مخې د وسلو قيمت پنځه ويشت (۲۵) ميلونه ډالرو ته رسېږي چې بايد نقدې ورکړ شي. دا خبره يې هم ور غبرګه کړه چې دا وسلې به د پاکستان له لارې افغانستان ته ځي.
«له ټولو مهمه دا افغانستان بايد دېر زر د پښتونستان لانجه له پاکستان سره حل و فصل کړي.»([۴])
افغان چارواکي په دې پوهېدلي ول، امريکا غواړي چې افغانستان د پښتونستان له مسئلې نه لاس واخلي. ولې دا نه يوازې سردار شاه محمود خان ته د منلو وړ نه وه بلکې له ده وروسته نورو هم د امريکا ټينګار ته غاړه کېښوده.
وروسته پېښو وښوده چې امريکا د شوروي اتحاد (کمونيزم) د مخنيوي لپاره غواړي پاکستان د يوه مورچل په توګه وکاروي. لکه د کوريا د جګړې (۱۹۵۲ کال) په بهير کې چې دغه حقيقت څرګند شو.
د امريکا چارواکو په ډېرې بېباکۍ د پاکستان پلوي کوله او په خپل دريځ يې د افغانستان پر وړاندې ټينګار کاوه.
په ۱۹۵۱ کال سردار محمد نعيم خان د امريکا د بهرنيو چارو مرستيال وزير ته وويل: که چېرې امريکا له افغانستان سره پوځي مرستې ونکړي، نو موږ به دېته اړ شو چې شوروي ته لاس اوږد کړو.
امريکايي چارواکي (**George Mcghee**) په ډېرې سپين سترګۍ د شوروي اتحاد د سفارت د تېلفون نمره پر کاغذ وليکله او بيا يې د محمد نعيم خان په مخ کې کېښوده.
سردار محمد داود خان ته دا هر څه څرګند ول او دې پايلې ته رسېدلی وه چې يا به د پښتونستان له داعيې نه تېرېږم او يا له امريکا نه. نو پر همدې بنسټ يې وېتېله چې له شوروي اتحاد نه پوځي او اقتصادي مرسته ترلاسه کړي. ولې بيا هم د افغانستان حکومت پرېکړه وکړه چې د وروستي ځل لپاره يوځل بيا د انکشافي پلان او د هېواد پوځي ودې ته د پرمختيا په موخه پر امريکا غاړه خلاصه کړي چې شپږدېرش ميلونه ډالره مرسته وکړي. ولې څرګنده شوه چې امريکا نه غواړي د محمد داود خان له حکومت سره د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاه مرسته وکړي.
له دې سربېره محمد داود خان هغه مهال دېر په غوسه شو چې امريکا پاکستان ته دېره پر مخ تللې وسله ورکړه. نو ځکه صدراعظم په ځغرده پر امريکا نيوکه وکړه چې (۱۹۵۳ کال د سپتمبر ۳۰) پدې کار سره د سيمې انډول له

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ګواښ سره مخ کېدی شي بیا یې ډېر زر سردار محمد نعیم کراچۍ او سعودي عربستان ته د خبرو لپاره واستوو چې په دې تړاو د دواړو هېوادونو له چارواکو سره وګوري.
کله چې پاکستان د سیتو غړی شو افغانستان لا د ګواښ سره مخ شو. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر (**John foster Dulles**) جان فستر دالس د ناپېلیون هېوادونو (۱۹۵۶ کال د جون نهمه نېټه) په غونډه کې چې په یوګو سلاویا کې جوړه شوې وه وویل:
هغه هېواد چې د امریکا ملګری نه وي د امریکا دښمن دی، د پام وړ خبره خو دا وه چې په ۱۹۵۳ کال د ډسمبر په میاشت کې چې کله د جمهور ریس مرستیال نکسن کابل ته راغی له محمد ظاهرشاه او نورو حکومتي چارواکو سره ولیدل نو بیا یې د اقتصادي ژمنو مرسته وکړه. ولې شرط یې دا وه چې د پښتونستان مسئلې ته باید د پای ټکی کېښودل شي.
د محمد داود خان د صدارت په مهال د افغانستان او د امریکا متحده ایالاتو تر مینځ په لوړه کچه چې د لوړ پوړو چارواکو په شتون کې کومې خبرې چې د «ایزنهاور» سره وشوې وروستۍ هیله وه چې ترسره نشوه.
افغان چارواکو، یا ښایي نه یې غوښتل چې په افغانستان کې انډول له مینځه یوسي، یایې په شوروي اتحاد ډېر باور نشو کولای او یا په دې اند چې پاکستان ګوښه کړي، یا ښایي دا ټولې خبرې له مجبوریتونو سره سره په خپل ځای وې... نو ځکه محمد داود یوځل بیا سردار محمد نعیم خان په ۱۹۵۴ کال د اکتوبر په میاشت کې واشنګټن ته واستوو چې له «جان فستر دالس» سره چې دغه مهال د دولت منشي وه تېر وړاندیزونه ور غبرګ کړي.
«ولېبیا هم نومړي د افغانستان د بهرنیو چارو په وزیر محمد نعیم خان فشار راوړ چې د پښتونستان مساله باید له پاکستان سره حل شي.»([۵])
نه یوازې د پاکستان او افغانستان تر مینځ سیاسي اخ وډب پای ته ونه رسېده بلکې پاکستان په ۱۹۵۵ کال د مارچ په میاشت کې د بنګال د غوښتنو په وړاندې یو «یونټ» را مینځته کړ چې پښتونخوا (صوبه سرحد) سیند او بلوچستان «پنجاب» پورې وتړل شول چې ګڼې لوېدیځ پاکستان د شرقي پاکستان په پرتله د رهبرۍ وړتیا لري. دا کار افغانستان ته د منلو وړ نه وه او د پاکستان د دې خبرې مانا دا ګڼله چې دا د پښتنو حقوقو پر وړاندې څرګنده سرغړونه ده نو ځکه یې د پاکستان حکومت ته یو احتجاجیه لیک وسپاره.
بیا په ننګرهار، کندهار، کابل او د هېواد په یوشمېر نورو سیمو کې د پاکستان په وړاندې په مظاهرو او لاریونونو لاس پورې کړ. د پاکستان د سفارت ښیښې یې ماتې کړې او بیرغ یې وسوځوه.

د پاکستان د یونټ په وړاندې د افغانانو غبرګون سیمې او نړۍ ته د پام وړ وګرځېد.
د پاکستاني چارواکو غبرګون هم ورته ښه لرله. یو شمېر ګمارل شوو کسانو د پېښور او کوېټې په قونسلګریو برید وکړ او په ځانګړې ډول یې د پېښور قونسلګرۍ ته ډېر زیان واړوه او بیرغ یې هم وسوځوه.
د پېښور افغان قونسلګرۍ په ناپوهۍ سره ډېر زر اوښتې زیان ورغوه ولې پاکستان د سیاسي موخې له مخې د بیرغ د سوځېدلو او سفارت ته د زیان اوښتلو مساله د ټولې نړۍ غوږو ته ورسوله او یو شمېر اسلامي هېوادونو لکه عربستان، مصر، عراق او نورو د پاکستان د بیرغ سوځولو موضو د پاکستان د هېواد سپکاوی وګاڼه.
پاکستان د کسات د اخستلو په پلمه د افغانستان او پاکستان تر مینځ لویه غځېدلې لاره بنده کړه او د افغانستان په ترانزیت یې بندیز ولګوه.
افغان چارواکو له یوې خوا امریکې ته وړاندیز وکړ چې د دواړو هېوادونو کشالې ته دې د پای ټکی کېږدي او له بلې خوا یې له ایران نه وغوښتل چې د «چاه بهار» له لارې د ترانزیت ستونزه حل کړي. ولې دواړو هېوادونو دا و نه منله.
افغانستان چې د دواړو ګاونډیو (پاکستان او ایران) په نیت پوهېدلی وه او له ډېرو هلو ځلو وروسته له امریکا متحده ایالاتو نه هم نهیله شو. نو بیا یې یوه لویه جرګه را وبلله.
لویه جرګه (۱۹۵۵ کال :(
د افغانستان او پاکستان تر مینځ کړکېچ لا کابو شوی نه وو چې په همدې بهیر کې په ۱۹۵۵ کال د نوامبر په شلمه (۲۰) نېټه لویه جرګه را وبلل شوه چې پنځه ورځې یې دوام وکړ.
د جګړې پرېکړه دا وه چې د پښتونستان داعیه باید دوام پیدا کړي او د دې لپاره چې افغانستان پوځي وړتیا ولري، غوره به وي چې له هر هېواده غواړي سلا ترلاسه کړي باید لاس په کار شي. افغانستان ته په کار دي چې یو پیاوړی پوځ ولري. او د داسې پوځ لپاره وسلو او پیسو ته اړتیا ده.
د جرګې له پایلو لږه موده وروسته د افغانستان د دولت په بلنه په ۱۹۵۵ ز کال د ډسمبر په میاشت کې د شوروي اتحاد د دولت او کمونست ګوند مشران بلګانین او خروشچف افغانستان ته راغلل.
دوی نه یوازې د لویې جرګې پرېکړه او د پښتونستان داعیه پر ځای وګڼله بلکې ژمنه یې وکړه چې له افغانستان سره به هر اړخیزه پوځي او اقتصادي مرسته هم وکړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې لپاره چې خپله غوښتنه او ژمنه يې افغان چارواکو ته ډاګيزه کړې وي سل (۱۰۰) ميلونه ډالره مرسته يې اعلان کړه.
د لوډيک اډاميک په قول:
«د محمد داود خان حکومت سربېره پر دې چې په افغانستان کې شوروي اغېزې ته مخه ورکړه خو له دې سره جوخت يې د هېواد ناپېلتوب هم وساته.»[٦]
د افغان او شوروي چارواکو له اوږدو خبرو وروسته دواړو لورو په دې ټينګار وکړ چې د پښتونستان له دعيې نه به د پښتونستان د خلکو له غوښتنې سره سم هر اړخيزه ملاتړ کوي. د دواړو هېوادونو په ګډه اعلاميه کې راغلي ول:
«دغه ملاتړ د پښتونخوا د خلکو له غوښتنو سره تړاو لري. د شوروي او افغان حکومتونه د ملګرو ملتو له منشور سره سم د نړۍ د هغو خلکو ملاتړ کوي چې تر اوسه يې خپله ازادي نه ده تر لاسه کړې.»[٤]

اقتصادي پرمختګونه:

د محمد داود خان د صدارت د مهال، هغه څه چې د ژبې په سرو و هغه لومړی پنځه کلن اقتصادي پلان وو چې په ۱۹۵۶ کال د سپټامبر په دوه ويشتمې (۲۲) نېټې (۱۳۳۵ هـ د تلې لومړۍ نېټه) را مينځ ته شو.
صدراعظم دېته ژمن وه چې يو رهبري شوی او پلان شوی اقتصاد ورغوي. ده د افغانستان له سياسي، اقتصادي او ټولنيزو پرمختګونو سره مينه درلوده. محمد داود خان هوډ کړی وو چې د افغانستان په پوځي او اقتصادي چارو کې به ستر بدلون راولي او دا بدلون هغه مهال شونی وو، چې يوشمېر پرمختللو هېوادو ته د مرستې لاس وغوځوي.
که څه هم افغانستان په ۱۹۵۵ کال د اګست په (۱۱) نېټه د درې (۳) ميلونو ډالرو په بدل کې له چک سلواکيا نه يوڅه وسلې ترلاسه کړې. ولې بيا هم افغانستان په سيمه کې د وسلو پوځي انډول نشو ساتلی.
افغان چارواکي دې پرېکړې ته رسېدلي ول چې پرته د امريکا او شوروي اتحاد له اقتصادي او پوځي مرستو نه افغانستان پنځه کلن اقتصادي پلان نشي پلي کولی.
که څه هم له تېرو حکومتونو نه سردار محمد داود خان ته يوڅه اقتصادي پرمختګونه په ميراث پاتې وو چې موږ د سوداګريزو توکو تبادله د ملي بانک د بنسټونو پياوړتيا، د ملي صنايعو وده او پرمختګ، د پلخمري نساجي فابريکې توليدات، په هېواد کې د برېښنا پراختيا او پرمختيا، د د بغلان د قند جوړولو فابريکه، د سړکونو جوړول او په لسګونو دا ډول پرمختګونه د کرهنې، سوداګريزو او لاسي صنايعو په چارو کې د بېلګې په توګه يادولی شو.
کله چې د محمد داود خان د صدارت په مهال د شوروي اتحاد ګوندي او دولتي مشران افغانستان ته راغلل د افغانستان د اوږد مهالو اقتصادي پروژو د ودې لپاره يې افغان چارواکو ته ټټر وواهه.
په ۱۹۵۶ کال د مارچ په مياشت کې د يوشمېر پروژو اعلان وشو چې د اوږد مهالو پورونو په ورکړه به ترسره کېږي. لکه د اوبو او برېښنا د بندونو جوړول او رغول، د شېرخان بندر د سړک کار، د سالنګ تونل ايستل چې درې کيلو متره اوږد وو، د هوايي ډګرونو رغول او د شوروي په مرستو يوشمېر نورې پروژې يادولی شو.
په دغه وخت کې يو شمېر اقتصادي او ټولنيزې پروژې په ټوله کې يادولی شو چې د پام وړ ګڼل کېږي. راواخله د کابل – کندهار او سپين بولدک تر مينځ، کابل او تورخم، هرات او کشک سړکونه د بېلګې په توګه د پام وړ دي.
د نغلو د پروژې د اوبو برېښنا د ۶۶ زرو کيلوواټو، د ماهيپر پروژه د لس زره کيلو واټو، د درونټې برېښنا بند پروژه يوولس زرو کيلو واټو په ظرفيت جوړې شوې. د نفت او ګاز د تفحصاتو کار، د ډبرو سکارو توليد، په شمال کې د کيمياوي کود پروژه، د غوري سمنټ فابريکه، د کابل جنګلک او نورې وړې وړې پروژې د يادولو وړ دي.
که څه هم په يادو پروژو کې د امريکا د متحده ايالاتو ونډه د شوروي اتحاد په پرتله لږ وه، ولې بيا هم د کابل کندهار، کابل تورخم، سړکونه د هلمند او کابل پروژې د دوی د مرستو بېلګې دي.
هغه مهال چې په ۱۹۴۹ ز کال د شوروي اتحاد مشر ستالين د پاکستان صدراعظم لياقت علي خان ته بلنه ورکړه چې مسکو ته راشي. ولې نوموړی د مسکو پر ځای د امريکا سپينې مانۍ ته لاړ. لکه څنګه چې امريکا ته پاکستان مهم وه دا رنګه شوروي ته افغانستان هم مهم شو.
پاچا او صدراعظم په دې هڅه کې ول چې له هرې لارې کېږي پنځه کلن پلان چې د عبدالمالک خان عبدالرحيم زي په نوښت او وړاندېز طرحه شوی وو بايد پلي شي او عملي بڼه خپله کړي.
افغان چارواکو د شوروي کارپوهانو پر مټ له ۱۹۵۶ کال، د مارچ له مياشتې نه را واخله تر ۱۹۶۱ کال پورې لومړنی پنځه کلن پلان تر لاس لاندې ونيو.
شوروي چارواو د ۱۹۳۱ کال تړون د لسو کالو لپاره نور هم وغوځوه او بيا يې په دې ټينګار وکړ چې له افغانستان سره به په اقتصادي او پوځي (د پښتونستان په شمول) چارو کې مرسته کوي. حال دا چې امريکا په ۱۹۵۶ کال د ډيورنډ کرښه د نړيوال سرحد په نوم ځکه ياده کړه چې دواړه هېوادونه د سياتو غړي ول.
په ۱۹۵۶ کال د شوروي اتحاد يو پوځي پلاوی افغانستان ته راغی چې د يوې نوې او عصري اردو بنسټ له سره ورغوي او ورسره جوخت يوشمېر کارپوهان د سلاکارانو په توګه افغانستان ته ولېږي او هم يوشمېر ځوانان د لوړو زدکړو لپاره په اقتصادي او پوځي چارو کې ور وځي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د شوروي اتحاد اقتصادي مرستې په دومره چټکۍ ترسره شوې چې په ځانګړي ډول يې د اوږد مهال لپاره دومره پورونه افغانستان ته ورکړل چې په پوځي برخه کې الوتکې، ټانکونه، سپکې او درنې وسلې پرې را ونيسي.
د شوروي دغه مرستې لوېديځې نړۍ ته داسې اندېښنې راولاړې کړې چې د «تايم مهالنۍ» سردار محمد داود خان ته د «سره شهزاده لقب ورکړ».[۸] او ايران هم په دې نوم يادوه. امريکا د دې لپاره چې افغانستان بيخي له لاسه ورنکړي، وې پتېله چې له افغانستان سره اقتصادي مرسته وکړي او هم يوشمېر ځوانانو ته د لوړو زدکړوزمينه برابره کړي. د ملګرو ملتو اداري هم د امريکا متحده ايالاتو (**I.C.A = A.I.D**) د انترنېشنل کوپرېش ادمنسترېشن (ايجنسي فار انترنېشل ديويلپمنټ)له خوا له افغانستان سره اقتصادي مرستې پيل کړې.
عبدالرحيم زی د ماليې د وزير په توګه د شوروي اتحاد، امريکې او نورو هېوادونو په مرسته د «مختلط اقتصاد» اند او نظر چې په ګڼ شمېر نا پېيلو او وروسته پاتې هېوادونو کې دود وه را مينځته کړ.
نوموړي چې لوړې زده کړې يې په پوځي چارو او په ځانګړي ډول د اقتصادي ودې (اتاتيزم) په هکله په ترکيه کې سر ته سولې وې، ويې غوښتل چې په افغانستان کې يې عملي کړي.
د دغه پلان پانګه لږ تر لږه اته نيم زرو (۸,۵) ميلونو افغانيو ته رسېده چې پنځوس سلنه ابو لګولو او کرهنيزو چارو ته ځانګړې شوې وه او پاتې نور يې ټولنيزو، ښوونيزو، روزنيزو، روغتيايي، لاسي صنايع، کانونه او نور کلتوري او اجتماعي چارو ته بېله شوې وه.
شوروي اتحاد د پنځه کلن پلان په تړاو د اقتصادي مرستو په څنګ کې خپلې سياسي موخې هم لرلې.
امريکا هم د هلمند پروژې او ښوونيزو کارونو پرته هغه پنځه کلن پلان چې پرته د دوی له سلا طرحه شوی وه، افغان وزير عبدالمالک خان ته کومه ډاډ منه ژمنه ور نکړه او سفر يې امريکا ته ډېر ګټور نه وو. د دوی د پلان يوه لويه تېروتنه دا وه چې په بهرنيو مرستو ډېره ډډه لګول کېده. د ساري په توګه اووه سوه څلوره دېرش (۷۳۴) ميلونه ډالره يوازې د امريکا مرستو ته، په پلان کې ځانګړي شوي ول.
دويم پنځه کلن اقتصادي پلان (۱۹۶۱ کال) په داسې مهال پيل شو چې د ماليې وزير عبدالمالک خان عبدالر حيمزي د کودتا په تور زنداني شوی وه.
دغه وخت د پلان وزارت په نوم يو بل تشکيل د حکومت په کابينه کې مينځ ته راغی چې د وزارت چارې يې پخپله محمد داود په غاړه واخستې.
دوی غوښتل چې دويم پنځه کلن پلان ته عملي او معياري بڼه ورکړي. ولې بيا هم د تېر په څېر په لږ توپير يې دوام وکړ. هغه توپير په دې کې وه چې په لومړني پنځه کلن پلان کې کرهنې او اوبو لګولو ته پنځوس سله پانګه بېله شوې وه ولې په دويم پنځه کلن پلان کې دغه سلنه نږدې ۲۴ سلنه شوه.

لومړي پنځه کلن پلان		دويم پنځه کلن پلان
– کرهنې او اوبه لګونه	=۵۰٪	– // ۲۳,۵٪
– لېږد او موصلات	= ۱۴٪	– // ۲۵,۵٪
– ښوونيز او ټولنيز	= ۷٪	– // ۱۱,۲٪
–معادن او صنايع	= ۲ ٪	– // ۳۳,۵٪

په دويم پنځه کلن پلان کې د «نورو خدمتو»په نوم له انکشافي بودجې نه ۶,۳ سلنه برخه بېله شوې وه. چې دا يو بنسټيز کار وو.
پر ځای به وي چې وويل شي، د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې د څو تنو شخصيتونو رول په دغه ټاکلي پړاو کې ډېر د پام وړ ګڼلی شو. چې هغه عبدالمجيد زابلي (په سودا ګريزو او بانکيزو چارو کې)، ډاکتر عبدالوکيل (په کرهنيزو او اوبو لګولو چارو کې) او عبدالرحيم زی (په مالي او اقتصادي چارو کې).
دا چې ولې عبدالرحيم زی د کودتا په تور ونيول شو؟ ښايي د دې لامل يوشمېر کورنۍ او بهرنۍ لاسوهنې وي چې يادونه يې اړينه ګڼو:

پټې او څرګندې کودتاوې،ستونزې اوتېروتنې

عبدالمالک خان عبدالرحيمزی :

دا چې د لوی اختر په ورځ د جنرال خواجه خليل، چې د کودتا پوځي مشر ګڼل کېده (د ۸ فرقې قومندان) په لارښوونه (۱۹۵۷ زکال – ۱۳۳۶ ل) به د سلطنتي کورنۍ په غړو وسلوال بريد کېږي تر اوسه دغه اوازې تر پوښتنې لاندې دي... !؟ ولې د کودتا «مشر؟»
عبدالمالک خان په دغه تور ونيول شو...؟ (د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ له بلې د ارګ تر مانۍ) دا چې دغه کودتا څومره رښتنې وه لاملونه يې لا تر اوسه تت دي. «ده محمد داود خان ته درناوی درلود، ولې له سردار محمد نعيم خان سره يې نه لګېده، ان دا چې د باندونګ په کنفرانس کې د ګډون په موخه چې تللي ول، د دوی تر مينځ د يوې لفظي شخړې په ترڅ کې زړه بدوالی را مينځ ته شو.»[۹] ولې د ده د بند په تړاو ويل کېږي چې دا د روسيې توطيه وه، کله چې عبدالرحيم زی له امريکا نه راستون شو د داود خان په امر بندي شو.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د وزیرانو د شورا په یوه غونډه کې هم د بهرنیو چارو وزیر محمد نعیم خان د لومړي پنځه کلن پلان د پاتې راتلو پړه پر عبدالرحیمزي واچوله او هغه بیا په ځغرده وویل:
کومه شتمنۍ چې سردار محمد هاشم خان بهر ته استولې باید بېرته راوړل شي چې لومړی پنځه کلن پلان له ماتې وژغوري. ویل کېږي چې د ده د بند یو لامل همدا وو. خو د کودتا تور پرې هسې پورې شو.

د اسماعیل بلخي کودتا:
موږ د مخه هم په دې تړاو وویل چې د سردارشاه محمود د صدارت په مهال چې نوموړي غوښتل په جمال مېنه کې د نیالګیو د کېنولو لپاره لاړ شي. بلخي خپلو غړو ته سپارښتنه کړې وه چې په صدراعظم مرګونی برید وکړي.
ګل جان وردګ چې د دوی د ګوند غړی وه د شپې په دولس بجو شاه محمود خان ته خبر ورکړ نو ځکه کودتا ناکامه شوه.
«د حمل وري په لومړی نېټه (۱۳۲۹ کال) د ګاوسوار زوی محمد ابراهیم په «باغوان کوچه» کې چې د یوې ګاډۍ په وسیله، غوښتل علي اباد ته ځان ورسوي ونیول شو. که څه هم د تومانچې ډز یې وکړ خو خلاص نشو په همدې مازدیګر بلخي هم ونیول شو.»([۱۰]) خو له یوڅو مودې وروسته محمد ظاهرشاه هغه وبښه.
د کندهار پاڅون :
«د کندهار پاڅون داسې نه وو لکه څنګه چې د «ارشاد» ګوند د اسماعیل بلخي تر مشرۍ لاندې پرېکړه کړې وه چې د سامانه په جشن کې شاه محمود خان صدراعظم له مینځه یوسي.»([۱۱])
د سردار محمد داود خان د صدارت په مهال د ښځو د غورځنګ په نوم یو خوځښت پیل شو. د افغانستان په لوي ولایتونو لکه ننګرهار، هرات، کندهار، مزار شریف او کابل کې د ښځو مخ لوڅۍ په تړاو والیانو ته سپارښتنه شوې وه چې دا کار ترسره کړي.
د کندهار خلکو د دغه ټولنیز غورځنګ په وړاندې پاڅون وکړ. خو د حکومت له خوا په ډېرې بېرحمۍ وځپل شو.
که څه هم په دې تړاو کوم رسمي اعلان نه وو شویخو یوازې محمد ظاهر شاه، محمد داود خان او محمد نعیم خان د ۱۹۵۹ کال د خپلواکۍ په جشن کې له خپلو مېرمنو سره چې مخونه یې لوڅ ول د جشن ځای ته را څرګند شول.
په کندهار کې والي محمد صدیق خان د ناسم چلن له مخې په کندهار کې ملایان، خانان او ګڼ ولسي وګړي د حکومت پر وړاندې را پورته شول چې موږ د خپلو ښځو مخ لوڅې نه منو.
حکومت له دې وېرې چې د امان الله پېښې راغبرګې نشي پاڅون کوونکي وځپل او د شپېتو تنو په شاوخوا کې کسان ووژل شول.
سید حسن پاچا د کودتا په تور :
سید حسن پاچا او او سید غلام حیدر پاچا او وزیر محمد ګل خان مومند هم ورسره مل وه په ننګر هار کې د جمهوریت په نوم یو ګوند جوړ کړ چې د «کورغم» په نوم یې یوه خپرونه هم چلوله.
دوی د پاچا امان الله نږدې پلویان ول. غلام حیدر پاچا د موتي په سرای کې ۱۴ کاله په بند کې تېر کړل او هملته د پنځه پنځوس کالو په عمر ومړ.
ولې سید حسن پاچا چې د سردار محمد هاشم خان د صدارت په مهال د حرب په وزارت کې فرقه مشروه د کودتا او سیاسي فعالیتونو په نوم زندان ته تېل وهل شو چې په پای کې هملته ووژل شو.
دی په ۱۸۹۶ کال د لغمان په چار باغ کې زېږېدل وه. نوموړي لومړنۍ زدکړې د امیر حبیب الله خان په مهال حربیي ښوونځي کې سر ته ورسولې.
دی مشروطه پال او د امان الله خان له مهمو پوځي شخصیتونو څخه وه. د اتاترک کړو وړو ته یې درناوی درلود او غوښتل یې چې افغانستان هم په دې لاره روان کړي.
پاچاهي نظام یې نه خوښېده. دا چې په کوم تور ونیول شو لا په بشپړه توګه سپینه شوې نه ده. ولې دی د امان الله خان له ډېرو نږدې خواخوږو څخه وه چې ډېر ځله به یې په ارګ کې یو د بل سره لیدل. دا ځکه چې د ده دنده هم په ارګ کې وه. ښایي دی هم لکه د څرخي کورنۍ په څېر د امان الله په دوستۍ کې له مینځه تللی وي.
د فیضاني او که، د جنرال میر احمد شاه کودتا؟ (۱۹۷٦ ز کال)
جنرال میر احمد شاه یو اوښیار او د مسلکي پوهې څښتن وه، چې د جنرال رسولي ور سره نه لګېده او ویل کېږي چې د کودتا تور هم د ده له خوا پرې ولګېد.
د جنرال میر احمدشاه اړیکې له مولانا فیضاني سره. څرګندې وې نو ځکه یو شمېر کسان دغې کودتا ته د فیضاني کودتا نوم هم ورکوي.
«عطاوالله فیضاني د هرات اوسېدونکی او په قوم کاکړ وه چې له ده سره انجنر حبیب الرحمن او یو شمېر نور پوځیان هم ونیول شول.»([۱۲])
د نوموړي له مهال سره سم نورې کودتاوې هم شوې دي چې په خپل ځای به یې یادونه وشي، چې آیا ریښتنیتوب لري او کنه؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ په دې تړاو د «محمد هاشم خان کودتا» د ساري په توګه یادولی شو.
که څه هم د «فیضاني او میوند وال کودتاوې !؟» د سردار محمد داود خان د صدارت په مهال ندي شوې بلکې د ده د «جمهوري ریاست»د واک په مهال پېښې شوې دي چې په راتلونکي کې به پرې وغږېږو.
که موږ د محمد ظاهرشاه د پاچاهۍ پېر په دوه برخو ووېشو چې لومړنۍ برخه یې د ترونو او د تره د زوی په صدارتونو پورې اړه لري، ولې دویم پېر د ده واک هغه مهال شروع کېږي چې د صدارت چارې د سلطنتي کورنۍ له «ګروت» نه اوځي او د ډاکتر یوسف له صدارت نه پیلېږي.

---

[۱] همدغه اثر ۲۱ مخ.

[2] Pakistan Foreign Policy S.M. Burk P.88
[3] Fletcher, Afghanistan. P.25۶
[4] Poullada, Afghanistan and the United states. 186 – 87

نوموړی (۱۹۱۳ – ۱۹۸۷) د امریکا دېپلو مات چې د افغانستان په چارو کې یو نامتو کارپوه
[۵] همدغه اثر ۱۸۷ مخ
[٦] لوډیک اډایک ۴۸۹ مخ.

[7] N.A. Bulganin and N.S Khrushcher,visit to Afghanistan (Newyork, New century, Publisshers 1956), 34.
[8] Fletcher, Afghanistan. P.2۸۵

[۹] سنګروال شهسوار له بلې د ارګ تر مانۍ ۱۰۷ مخ.
[۱۰] مبارز عبدالحمید افغانستان ۱۶۷ مخ.
[۱۱] له بلې د ارګ تر مانۍ ۱۱۱ مخ.
[۱۲] همدغه اثر ۱۱۸ مخ.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ